// افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| اجتماعی | Social |
| --- | --- |

انجمن اجتماعي زحمتکشان افغانستان

۲۵ می ۲۰۱۱

### له علي محمد کارګر سره لنډه مرکه

## زيارکښانو سره يو موټی شئ

د قروغ غره په لمنه کې يو ښار ګوټی «امېد سبز» په نوم د حاجي نبي په پانګونه جوړيږي چې زيات شمېر زيارکښان دې پروژه کې په کار بوخت دي او علی احمد هم ددی زيارکښو څخه يو کارګر دی چی د "زيار" د پوښتنو په ځواب کی داسی وايی:

**۱- پوښتنه: مهرباني وکړئ خپل ځان را وپيژنئ؟**



-ځواب: زما نوم علي محمد دی، د کور جوړوني يو تن کارګر يم. او څو کاله کيږی چی د جاغوری څخه د وزګاری په علت ته کابل ته راغلی يم او په دی ښارګوټی کی په کارګری بوخت يم.

**۲- پوښتنه: دا چې ته د کور جوړوني کارګر يې، ستا ورځنی عايد څومره دی؟**

-ځواب: په ژوند کې خو هر راز شخصي ستونزې پیدا کیږي کله چې کوم مشکل را ته پیدا شي مجبور یم چې کار پریږدم او خپله ستونزه حل کړم مګر په عمومي توګه کله چې کار کوم د ورځې ۳۰۰ افغانۍ عاید لرم او هر څوك پوهیږي چې په اوسنی حالت کې په ۳۰۰ افغانۍ هیڅ هم نه جوړیږي.

**۳- پوښتنه: په عمومي توګه د «شهرك سبز» زیارکښان په کومو کارونو بوخت دي؟**

- ځواب: دې پروژه کې کارګران راز راز کارونه تر سره کوي، لکه د خښتو دیوال، سمټ کاري، سیم تاوي، لنټر اچول، رینګ اچول، نل دواني، لین دواني، د خاورو، شګو او جغل چلول او داسې نور. خو دا کارونه دومره چې کارګران دلته اوسیږي ډیر نه دي، په دې خاطر اکثر کارګران وزګار پاتې کیږي.

**٤- پوښتنه: هغه ۳۰۰ افغانۍ چې ستا ورځنۍ عاید دی په هغه باندې خپلې اقتصادي ستونزې حلولی شي؟**

ځواب: که چیرې هوا ښه وي، باد، باران، ږلې و نه وریږي، ژوند مو قوت لایموت مخ په وړاندې ځي، او که طبیعي افتونه زموږ کار پارچاو کړي په هغه صورت کې پسمانه کیږو په خاصه توګه ژمي کې چې ځیني کارونه د واورې او یخنې له کبله په ټپه ودریږي. ځکه چې ورځ په ورځ نرخونه جګیږي او زه مجبور یم چې په دې ۳۰۰ خپله ګوازه وکړم.

**٥- پوښتنه:  دولت تاسو سره کومه مرسته کوي؟**

ځواب: هیڅکله نه، دولت موږ د خپلې دایرې او اداري څخه وتلي خلك ګڼي، هیڅ ډول مرسته راسره نکوي. په دولت کې فساد ډیر دي او خپل ښوونکي او ټیټ رتبه مامورینو ته توجه نه کوي نو مونږ ته به څنګه وکړاي شي.

**٦- پوښتنه: نورو زیارکښانو ته څه پیغام لری؟**

ځواب: زیارکښان دې خپلې متی ونغاړي پخپل توان او طاقت دې ځانته نفقه وګټي او دا چې د ټولو زیارکښانو ستونزې شریکې دي، خپلو کې سره یو موټی شي او حاکمانو باندې فشار راوړي تر څو زیارکښانو طبقي ته حقوق قایل شي، ځکه چې هر شی د اتحاد نه لاس ته راځی.